# بی رحمه قاتلان

## په زړه پورې پښتو ناول




ليکوال: داکتر مجیب الرحمن منیب الله

دتماس شماره: ۰۷۷۱۷۰۱۴۴۸ دوهم ۰۷۳۱۵۷۲۴۶۹

ایمل ادرس: monibullah077170@gmail.com


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــاتلان لیکوال داکتر مجیب الرحـمن منیب الله

بسم الله الرحمن الرحیم

د کسیه د دو ورنړو ده چی د هغو څخه یو یی اولاد لری او بل یی نه لری داچی ځینی خلک د میراث له پاره کوم کارونه کوی دلته درته بیان شوی ده

زموږ په ټولنه کی یو هم دا ډیر خراب دود او رواج دی چی میراث په سر ورور خپل ورور له وژنی

## شـــــــــــــروع

اسلم او سلیم دو ورنړو ووه .خوشحال ژوند یی کوو او پریو بل ډیر گران

ووه.اسلم یی مشر ورور وه او پلار یی څو کال مخکی د روسانو سره په جهاد کی شهید شوه وه .د اسلم عمر اوس محل ۱۵ کاله وه او سلیم له ترواس کوچنی وو. داسلم مور له بل سړی سره واده کړی وه .اسلم او سلیم هم د خپلی مور سره ژوند کوو.نایب خان به په اسلم ډیر ظلم کوو،

او هر وخت به یی ویل ما دی له مور سره واده کړی نه له تاسی دو بی عقلانو سره چی کومه ورځ به می له ژوند څخه ورک شی . خو اسلم او مور یی پټه خوله وو، څوک یی نلرل او بل خوا غریبه ووه،اسلم به تر غرمی پوری د غوا لپاره واښه کول او سلیم به غوا کتله شپی او ورځ تیرید د نایب خان زوی علی خان هم اوس لوی وه ، او کله کله به یی له اسلم او سلیم سره جنګ شو ، یو ورځ چی کله اسلم له واښو څخه راغی ګوری چی د سلیم سر مات دی او له سر څخه یی وینه روانه ده ،اسلم ته ډیر قهر ورغی او له کوټی بهر شو ،

علی خان یی په څپړ ووها او ورته وویل علی ته لوی سړی یی ولی سلیم ووهی ، په دی وخت کی نایب خان راغی او اسلم یی ښه ووها نایب خان کی داسی وخت ته په تمه وه اسلم او سلیم یی له کور پسی واخستل،د اسلم او سلیم مور ډیر زاری نایب خان ته وکړی خو هغه ورته وویل که ته غواړی لاړه شی ته هم تللی شی ، لنډ داچی اسلم او سلیم لاړل او مور یی له خپل نوی خاوند سره پاتی شوه ، اسلم او سلیم د خپل پلار پخوانی کور ته لاړل چی اوس یو کنډوله وه. او له څو ورځ کار ورسته یی یو اطاق پکی جوړ کړه .

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــــاتلان لیکوال داکتر مجیب الرحـمن منیب الله

اسلم به هر کال د نور خانانو ځمکی کرلی او ورور به یی د کوم چا په کور کی مزدوری کوله .دوی اوس خوشحال وو. ماښام به یی کور کی په خوشحالی سره بازی کولی او اسلم به همیشه کوښښ کو تر څو ورور یی خفه نشی هر ورځ به یی ورته په فکرونو کی شش محل جوړ ول له له څو کلونو ورسته اسلم یو غریبی کورنی ته مرکه وکړه .هغو هم ومنله او اسلم واده وکړه .سلیم هم خوشحاله وه ځکه کورته یی یو بله رڼا راغلی وه .ژونده همداسی تیریده او څه وخت ورسته اسلم یو ښکلی کور جوړ کړه .له کور ورسته یی د ورور د واده غم هم وه ،هر وخت به اسلم او ښځی یی پرسلیم ټوکی کولی . یو ماښام له ډوډی ورسته اسلم سلیم ته وویل . سلیم جانه ما درته یو جینی خوښه کړی ده. د بر کلی د صدوخان ماما لور ده هم ښکلی ده او هم زموږ په شان غریب خلک دی .سلیم په شرمیدلی غږ وویل .لالا څنګه چی ستا خوښه وی . او له کوټی څخه بهر شوو. اسلم هم وخندل او څادر یی په اوږه واچوا او له کور بهر شو . د ژمی یخی شپی وی سهار ډله ډله خلک د سلیم د واده مبارکی ته ورتلل .

نایب خان هم له دی خوشحالی خبر شو نو یی خپلی ښځی ته وویل راځه چی مبارکی ته ورشو ستا نازولی زوی ته یی واده کړی دی ، ښځه ټوخی واخسته او ورسته یی له سترګو څاڅکی څاڅکی اوښکی لاړی او په ټیټ غږ یی وویل .خان صاحب سمه ده . غرمه محل په کوټه کی زیاد خلک وو، چی نایب خان راغی .د نایب خان راتلل په سلیم ښه ونه لګیدل .سلیم غوښتل جګ شی او نایب خان له کور وشړی خو اسلم یی لاس ونوی. او په ټیټ غږ یی ورته وویل غلی شه مور ورسره ده ،نایب خان وویل اسلم زوی سږ کال وچ دی احتیاط کوو، ټولو وخندل سلیم وویل موږ په اباد کال کوم خیر ګړی چی سږ کال به یی وکړو نایب وویل زوی خدای مهربان دی سلیم په ډیر چټکی سره وویل خانه ماته زوی مه وایه ،ټول حیران شول اسلم وخندل دادی پر ورور می لومړی ورځ واده تاثیر وکړه او خبر یی بدله کړه ژوند همداسی تیرده څو میاشتی ورسته د اسلم زوی پیداشو او له لږ مودی څخه ورسته یی د سلیم ناوی کورته راوستله ،

د ناوی له راوستلو څخه یو میاشت ورسته د اسلم او سلیم د ښځو ترمنځ جنجالونه پیدا شول هغه پخوانیو خلکو متل کړی وایی ( دو مرغان په یو کفس کی ته چم

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــــاتلان  لیکوال داکتر مجیب الرحـمن منیب اللّه

کیږی خو دو ښځی یو کور کی نه) څو وخت ورسته سلیم خپل مشر ورور اسلم ته وویل لالا زموږ کور کی هر ورځ جنګ وی غواړم د حل لار ورته پیدا کړم تر څو دغه حالت ختم شی .

اسلم وویل وایه څنګه لار سلیم وویل زه غواړم خپل ویش جلا کړم ،څو کال ورسته اسلم په سرطان ناروغی اخته شو او لږ وخت ورسته بیا وفات شو . او کورنی یی دو زامن جان محمد او اغا محمد ته پاتی شوه ،سلیم هم په لنډ کلی کی اوسیده مګر سلیم کوم اولاد نلرلو فقط یو میرمن او یو خپله وه .له اسلم سره یی مخکی خپله جایداد ځمکه معلومه کړی وه ،

سلیم خپل کار کوو او جان محمد د اسلم مشر زوی به هر وخت د لوچګانو په مجلس کی وه نه له ځان خبر وه او نه له خپله ورور اغا محمد څخه لنډ دا چی جان محمد د پلار ورپاتی ټوله ځمکه او کور د نشو په لار کی خرڅ کړه او لا زیاد قرضدار هم شو ،د حامد کرزی دوهم درو انتخابات وه ،چی جان محمد پس له څلورلس کالونو خپل ورو ر اغا محمد ولید تک تور او ډنګر شوی وه ، له پوښتنی ورسته کور ته لاړل او اغا محمد هم په تریاکو باندی اخته وه ،او هلمند کی اوسیده میرمن یی لرله او دو دانی زامن هم څو ورځ هسی تاو شو بیا یی ماښام جان محمد ته وویل یار دا سلیم کاکا هم هیڅ شرم نلری ته مړ کیږی ، او دا ښځه یی هیڅ نه زړیږی ، دواړو وخندل ،سهار چی لمر راګرم شو د جان محمد ښځه چای راوړ او وویل

پورته شی دا بیا د څه وخت خوب دی ولی خدای مو هیر دی ته لمونځ کوی اونه مو کوم بل کار شته وشرمیږی ، اغا محمد وویل ورور تا لکه چی د ملا صاحب لور سره واده کړی دی وخندل هههههه،جان محمد وویل ورور دغه کاکا به څنکه کوو هیڅ زموږ عزت نلری نه یی کومی وخت راته یو پوړی ونیوله هسی میرمن یی هم ښه شی ده دواړو وخند ل او لاسونه یی سر وجنګول له چای خوړلو څخه ورسته د شنو باغونو په لوری روان شول سلیم چی اوس یی د ځوانی شپی تیرشوی وی په خپل باغ کی کار کوو.دغه دو ځوانان ورغلل او ورته وویل اغا محمد وویل کاکا کاکا دا څه کوی سبا بل سبا کی مړ کیږی او دا ټول موږ ته پاتی کیږی .

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــاتلان لیکوال داکتر مجیب الرحـمن منیب الله

جان محمد په قهرجن لهجه وویل بی غیرته دا زما او ستا د پلار ورور دی ولی داسی خبری کوی ،او له باغ ووتل ،شپه شوه سلیم ته یی میرمنی وویل :سړی دا ستا د ورور زامن ماته ښه نه ښکاری او داسی بل ډول حرکتونه کوی .سلیم وویل همداسی ده ګرانی او زیاد یی کړه نن ډیر ستړی شوی یم ټوله ورځ می پټو کی کار کاوو هی هی خوړی کاش چی ما او تا یو زوی لرلی

.اوس به مو ورسره لوبی کولای .ښځی وویل کاش جان خو بس د خدای ج دا خوښه ده چی ما او ته یوازی یو،سلیم په بیستره پروت او ښځه یی لا ناسته وه چی د دروازی غږ شوو، سلیم له ځای پاڅیده او وویل خدای د خیری کړی چی څوک به وی ، ورغی او د دروازی له شاه یی لرګی لیری کړه او دروازه یی خلاصه کړه.

د دروازی د خلاصیدولو سره سم یو چا ا اخ اخ توری وویل او یو بل چا په ټیټ غږ وویل داخل کوټی ته یی یوسه زه د ښځی غم کوم .او جان محمد کوټی ته راغی د سلیم ښځی په ویردلی غږ وویل خیر خو دی جان محمد هغه وویل خیر دی د تر ښځی ما او اغا محمد راغلو ترڅو لږ لوبی وکړو او وخندل ،ښځی په سلیم پسی ناری کړی سلیمه سلیمه مګر چا ځواب ورنکړه جان محمد وویل ناری مه ووهه هغه هم اوس راځی .ښځی غوښتل د باندی لاړه شی خو جان محمد په لرګی ووهله او په ځمکه ولویده .

له دی سره اغامحمد سلیم په اوږه اخستلی او کوټی ته راغی .سړی یی په ځمکه واچواو او وویل یاره دا بوډا څومر درند دی ،

د سلیم لاسونه او پښنی یی کش وتړلی او میرمن ته یی وویل که د ځان خیر غواړی بس څه چی موږ درته وایو هغه کوو.ښځی په زاری شروع وکړه او ژاړی پدی وخت کی سلیم په هوش راغی ځان یی سره کش کړه خو ډیر کلک تړل شوی وه .سر یی درد وکړ وینی ورباندی روانی وی .سړی خپلی ښځی ته وکتل هغی ژړل او د کوټی په کونج کی ډیر په بد حال ناسته وو.لاسونه یی تړلی وو.سلیم په ضعیفه غږ وویل دا څوک وو.

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــاتلان لیکوال داکتر مجیب الرحـمن منیب الله

د ځنګه له کوټې غږ راغی وویل زه یم جان محمد او ورور مې اغا محمد بوډا ورستی شپه د ده بس نور د کار ختم دی سلیم حیران وه. په عرض او زاریو یی وویل ستاسی چی څه غواړی کوم یی خو ښځی ته می ضرر مه رسوی جان محمد وویل کاکا دا ستا پسی چیرته دی واویه سلیم وویل مه کوه زه حج ته ځم نمبر می هم ختلی دی  اغا محمد رامخ ته شو په لاس کی یی چاړه وه په مسخر یی وویل کاکا حج ته ځی لیږم دی خو باید یو کوچنی قربانی ورکړی او په غوږ یی چاړه کیښوده .سړی نری درد احساس کړه.

خو لاسونه یی تړلی وه بیا جان محمد لنډ ورغی وویل کاکا اوس خو حج هم نشی کولای ځکه غوږ د نشته .داوړو په زور وخندل د سلیم ښځه د کوټی په کونج کی حیرانه ناسته وه او هیچ خبری یی نه کولی که به یی خپل خاوند ته وکتل او کله دغه دو ظالمانو ته خو هیچ یی هم نشوی ویلی . جان محمد ورته وویل د کاکا ښځی ولی لږ چای یا هم ډوډی ملمانه یو اخر لږ شرم دی ته هیچ راته نه راوړی .ښځه پورته شو د اشپزخانی په لوری روانه شوه. جان محمد یی خپل ورور ته سترګه ووهله ښځه پسی روان شو . له اشپزخانی د ژړا غږ راتلی او اغا محمد خندل پدی وخت کی یی ورور جان محمد ورناری کړی وخت مه باسه چی دا هم ورک وال غواړی .

اغا محمد د اشپزخانی دروازه وتړله او د کوټی په لوری راغی . له ورور سره یی وویل .اوس پدی څه کوو باید خلک خبر نشی  او دا خبر همدلته ختمه شی .هغه ورته وویل راځه زه درته چل ښیم .د شپی ۱۲ بجی وی چی څلور کسان د سلیم له کور ووتل ،سلیم یی کش کش تړلی وه د ښځی یی لاسونه او خوله تړلی وه او د غر په لار   روان شول کله چی له کلی څخه ووتل د سلیم پښی یی ورخلاصی کړی او روان یی کړه .

له ډیر منزل ورسته جان محمد وویل لالا د سلیم پښی او بیا بسته کړه . اغا محمد همداسی وکړل له یو کوچنی غونډی تیر شول لږلږ ډبری وی دلته یی دمه کوله .خو د جان محمد مردار زړه بل څه وه .د کاکا ښځی ته لنډ ورغی هغی ژړل جان محمد یی په غاړه چاړه کیښوده او ورته یی وویل سم سم کنه انجام به دی د دغه بوډا په شان وی .لږ وخت ورسته بیا روان شول.د سهار لمر تازه راختلی وه .

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــاتلان ليکوال داکتر مجيب الرحـمن منيب الله

چی دوی يو غره ته ورسيدل په غر ويو غار ته ورغلل چی زياد پخوانی تاريخ يی لرلو.پخوا وختونو کی به چی کوم چا څوک ژوندی ورک کاو دلته به يی راوسته او غار کی به يی اچولو بيا به يی درک پاک ورکيده . له دمه کولو ورسته يی د سليم پوزه هم ورپری کړه بيا يی ورته وويل دا ستا ورستی منزل دی .وينه ورڅخه روانه وه سليم په کراره کرا ره کمزوری کيده .

له بلی خوا يی د خپلی ميرمنی بی عزتی هيچ نشوی زغملی .لږ وخت ورسته اغا محمد يو کوچنی غوټه خلاصه کړه ډودی پکی وه . لږ يی خپله واخستله او لږيی ورور ته ورکړه .. جان محمد وويل ورور راځه چی يو ځل د بوډا خوله ورته خلاصه کړو چی څه ارمان لری بيا ځو څکه لږ وخت لرو ترڅو چی د کلی خلک خبرکيږی ،د سليم خوله يی خلاصه کړه هغه يوازی خپلی ميرمنی ته وويل ما وبښه بس بی هوشه شو جان محمد يی بيرته خوله وتړله او لاندی غار ته يی ور واچوا........

له لږ وخت څخه ورسته يی له همدا غره څخه د کوچيانو د کورنو په لوری حرکت وکړه. او په لار کی يی ښځی ته وويل ګوره سليم مو ختم کړی او اوس تاته يو څه وايم که دی چاته وويل چی دغه کسانو رما خاوند وژلی بيا موږ وايو چی هغه دی هم راسره مړ کړی او دا له موږ سره جوړ وه .....

ښځی چی بله چاره يی نلره دا خبر قبوله کړه او له لږ وخت ورسته د کوچيانو کلی ته ورسيدل .او له ډوډی او چای ورسته د کور خاوند ورڅخه پوښتنه وکړه وروره دا ستاسی سره چی کومه ميرمن ده هيچ يی ندی خوړلی او په ژړا يی ځان ختم کړه داستاسی څه کيږی .او ولی مو داسی راوستلی ده . جان محمد وويل دا می ورنداره ده ،خاوند يی تير ورځ اربکيانو شهيد کړه او زموږ د ژوند خطر هم وه ځکه له هغه ځای د شپی راغلو او اوس مو حالت داسی دی .د کورخاوند ډير خپه شوه او خپلی ميرمنی ته يی غږ کړه .ای ښځی دا زما ملمنو ته ښه ډوډی ورکړه . سړی له خيمی ووتلو .جان محمد وويل لالا دا خلک که خبر شول خير به مو نه وی بايد سهار وختی له دی ځای لاړ شو .

اغامحمد وويل سم ده اوس ارام اوسه ،د سليم ميرمنی تر سهار پوری وژړل او د کورښځی ورته ناستی وی سهار وختی اغا محمد ناری کړی ورنداری ورنداری

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــاتلان لیکوال داکتر مجیب الرحـمن منیب اللّه

ځو ځان تیار کړه ،ښځې د کور یوی میرمن ته وویل ستاسی خاوند چیرته دی
هغی ورته وویل هغه میړی ګوری د سلیم ښځی وویل ته ورته غږ کړه زه د دغو
خلکو ورنداره نه یم زه یی راتښتولی یم ،اوزما خاوند یی راته شهید کړه له ماسره
یی ناجایزه کارونه وکړل . د کور میرمنی یی خپل اته کلن زوی خاوند پسی
ولیګه او روان شو اغا محمد چی هلک ولید لږ وربادی شکی شو نو یی جان
محمد ته وویل ګوره ورور ښځی حال ویلی دی او ماشوم په نارنو پسی لاړی
راځه چی لاړ شو اغا محمد ورمنډه کړه او د میرمنو د خیمی په لوری ورغی د
سلیم میرمن یی له لاس ونیوله او راکش یی کړه ،خو د کور  میرمنی د لرګیو
سره د ظالمانو حضور ته حاضری شوی .کش ما کش شو خو اغا محمد ناکام شو
له خیمی راووتل او په منډه د غره د لمنی په لوری روان شول منډی منډی لنډ دا
چی د خلکو له سترګو پناه شول .کله چی کوچی خیمی ته راغی د سلیم ښځی
ورته ټوله قیصه ورته وکړه .د کوچی له سترګو اوښکی روانی وی او په ډیر
خپګان یی وویل خوری اوس زه څنګه وکړم او تا چیرته ورسوم ،موږ تا د ژوند
تر اخر ساتلی شو خو بیا به خلک وایی چی ستاسی ولی دا پردی ښځه ساتی
.ښځی ورته وویل زه څوک نلرم ټول خپلوان مو له دغه ظالمانو څخه ویریږی
.کوچی ورته وویل خوری  دلته طالبانو اطاق دی زه خبر ورکوم تر څو ستاسی
کورنی ته خبر ورکړی .کوچی له خیمی وواته او یو ساعت ورسته دو کسان
راغلل یو یی مولوی او بل طالب وه ، د سلیم میرمن ته یی وویل خوری زه د
دغی سیمی نظامی مسول یم .

ستاسی د کومی ځای او کوم کلی یی او خاوند مو چیرته دی . ښځی ورته وویل ،
خاوند می په لوړغره کوه مانی  غار کی دی دغو ظالمانو شهید کړی او د خپلوانو
ادرس یی ورکړه .د مولوی صاحب له سترګو اوښکی روانی وی طالب ته یی
وویل ټولو ملګرو ته خبر ورکړه چی په هر ځای کی دغه دو کسان ولټوی او د
نیولو امر یی ورکړه .طالب هم په مخابره کی ملګرو خبر ورکړه .مولوی وویل
صدوخان کاکا ترڅو چی د دغی میرمنی خپلوان راځی تاته امانت ده ،

چی خپلوان یی راغلل بیا ماته حتمن خبر راکړی . طالبان روان شول. دری ورځ
ورسته خان ګل او زوی سردار له کوچی پوښتنه وکړه چی دصدوخان کوچی

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــاتلان لیکوال داکتر مجیب الرحـمن منیب اللّه

خیمی چیرته ده . صدوخان وویل زه خپله صدوخان یم ستاسی څوک یاست .خان ګل ډبری ته ډډه ووهله او وویل ستا کور کی زما لور ده .لږ وخت ورسته د خیمی په لوری راغلل د سلیم میرمن چی خپل پلار او ورور ولیدل خوشحاله شو او په منډه منډه یی مخته ورغله . خان ګل د طالبانو اطاق ته خبرورکړه او طالبان راغلل، دا ټوله قیصه بیان شوه او په اخر کی یو طالب وویل صدوخان کاکا اغا محمد او جان محمد اوس د اربکیانو سره یو شوی دی او دلوی لاری په پوسته کی دی چی تللی احتیاط وکړی .په دی زمان کی اتلس ورځی تیری شوی وی خو سلیم په غره کی پروته وه او په کلی کی یی دا خبره کیده چی سلیم او وررونه یی محلی پولیس شوی دی خو داسی نه وه...خان ګل ماښام کلی ته ورسیده د سلیم میرمن ته یی وویل فرشته اوس ویده شه بیا به سهار خبری کوو.خان ګل ټوله شپه بیده نشو او کله چی سهار ملا اذان وکړه . خان ګل اودس ورکړه او مسجد ته لاړ ... له لمانځه ورسته خان ګل وویل کلیوالو سلیم یی وررونو شهید کړی او په لوړغره کوه مانی غار کی یی اچولی ده کلیوال حیران شول د مسجد ملا وویل څو ځوان لاړ شی او وګوری چی دا خبر رښتیاه ده کنه ،ځوانان لاړل او غار یی وکتلو ګوری چی سلیم پکی پورت دی ،ځوانانو سلیم له غار راویسه سلیم یی بند پربند داسی ترلی وه چی څوک به جنګی مجرم هم ونه ترِی .د سلیم د جنازی لمونځ د هغه د مرګ په ۲۰ ورځ وشو خدای ج دی ورته جنت ورکړی ......

اغامحمداوجانمحمد له دری کال ورسته خپل کلی ته پوسته راوړه او بیا یی عادی ژوند شروع کړه اغا محمد د طالبانو په برید کی ووژل شوه او جان محمد له څه وخت ورسته طالبانو ته تسلیم شوه ،خو باید سزا یی لیدلی وی خو داسی انصاب لرونکی پیدا نشول جان محمد اوس هم کله کله دا قیصه کوی ... او د سلیم میرمنی په بل ولایت کی واده وکړه او اوس ښه ژوند لری .....

خدای زموږ وطن افغانستان ته یو داسی اسلامی او شرعی نظام راولی چی د سلیم په شان مظلوم او بیچاره خلکو ته انصاف ورکړل شی

( امین )

ketabton.com - The Digital Library

# بی رحمه قـــــاتلان لیکوال داکتر مجیب الرحـمن منیب اللّه

ګرانو ملګرو خدای ج د وکړی چی دا داستان مو خوښ شوی وی او په راتلونکی کی زموږ نوری لیکنی هم وګوری او ولولی

که غواړی زموږ نوری لیکنی او معلومات ترلاسه کړی نو زموږ سره په لاندی ایمل ادرس رابطه وکړی ..

Monibullah077170@gmail.com

اویا هم واتساپ نمبر باندی

۰۷۷۱۷۰۱۴۴۸ ......۰۷۳۱۵۷۲۴۶۹

زموږ لیکنی ...

په یو روغتیایی مرکز کی ...په پښتو ژبه ..طبی

ملاریا تداوی او مخنیوی ...په پښتو ژبه ..طبی

۴۰۰طبی پوښتنی ....... په پښتو ژبه ..طبی

بی رحمه قاتلان.... کیسه په پښتو ژبه ..طبی

همدارنګه نوری لنډ لیکنی

که غواړی دانلود یی کړی نو نو په ګوګل کی کتابتون ته مراجعه وکړی او یا لندی لینک تعقیب کړی

مننــــــــــه مجیب الرحمن منیب الله



# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*